دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

کله چې الله او دهغه رسول د کوم کار په هکله پریکړه وکړي نو هېڅ مؤمن سړی او مؤمنه ښځه حق نه لري چې د خپل هماغه کار په هکله اختیارمن اوسي، او هر چا چې له الله او رسول نه یې سر وغړاوه، نو په رښتیا چې په ښکاره یې لیار ورکه کړه.
(سورة الاحزاب: ۳۶)

درس حدیث

از ابو ایوب رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که رمضان را روزه گرفته و به تعقیب آن شش روز از شوال را به آن پیوست کند، مانند آن است که همیشه روزه داشته است. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۲۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۷۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د وږی ۸ مه د۱۴۳۳ هـ ق د شوال المکرم ۱۱ مه د۲۰۱۲ م د آګست ۲۹ مه

افغان ځواکونو له لورې پر بهرنیو عسکرو حملې دوه چنده زیاتې شوي دي

افغان پوځیان د امریکایي عسکرو له هغه چلنده چې د افغان عسکرو او د ولسي خلکو له مذهب او فرهنګ سره یې کوي، راضي نه دي، د دوی اکثره نژاد پرسته، بې باکه او مغرور دي او د افغانانو ملي او اسلامي ارزښتونو ته په سپکه ګوري. (جګړن حسن زاده)

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسنی:
په ۲۰۱۱ کال کې ۳۵ بهرني عسکر د افغان ځواکونو په ډزو کې وژل شوي، حال دا چې سږ کال چې پای ته یې لا څو میاشتې پاتې دي، تراوسه په داډول ځملو کې د ناټو په مشرۍ ځواکونه ته د تلفاتو شمېر ځلوېښتو ته رسیدلي دی.
دا د ۲۰۱۰ کال په مقایسه دوه چنده زیاتوالی ښیي.
دغو حملو چې په لویدیځو مطبوعاتو کې شنو ته د زرغونانو له خوا د قتلونو نوم ورکړل شوی؛ په افغانستان کې د امریکایي قومندانانو اندیښنې زیاتې کړې دي.
خو د افغانستان د ملي اردو یو افسر "جګړن حسن زاده" نیوزویک مجلې ته ویلي؛ چې دغه مساله د ده لپاره د حیرانتیا وړ ځکه نه ده؛ چې دی په دې پوه دی، چې افغان عسکر ولې پر امریکایي او د ناټو پرعسکرو ډزې کوي.
حسن زاده وایي، دی د امریکایي عسکرو له هغه چلنده چې د ده له عسکرو، له ولسي

پاتې ۴ مخ

نخستین فابریکه ذوب آهن در ولایت هرات افتتاح شد

کابل، رسانه ها:
نخستین فابریکه ذوب آهن دیروز توسط وزرای تجارت و صنایع و اقتصاد افغانستان در ولایت هرات افتتاح شد.
فابریکه ذوب آهن "کابل فولاد" با هزینه ابتدایی هشت ملیون دالر امریکایی در حالی آغاز بکار کرده است که شماری از فابریکه داران در هرات از عدم همکاری دولت در بخش تجارت و صنعت شکایت دارند.
آنان می گویند، شماری زیادی از شرکت های صنعتی هرات به خاطر عدم توجه دولت در برابر اجناس مشابه و بی کیفیت کشورهای همسایه در مارکت هرات از فعالیت بازماندند.
عصمت الله وردک رییس فابریکه ذوب آهن کابل فولاد گفت، این فابریکه به مساحت ۲۵ جریب زمین در مربوطات شهرک صنعتی هرات ایجاد شده است. به گفته وی این فابریکه روزانه نزدیک به صد تن آهن را تولید می کند و تلاش دارد تا در آینده بر تولیدات خود بی افزاید.
آقای ورک می گوید، فابریکه ذوب آهن کابل فولاد برای ۳۰۰ تن زمینه کار را فراهم کرده و از موجودیت نزدیک به ۵۰

بقیه در صفحه ۴

د ایران د ډیپلوماټانو په نوم د یوه واټ له نومولو خبر نه یو

کابل، رسنی:
له دې سره چې څو اونۍ مخکې د بلخ سیمه ایزو چارواکو په دې ولایت کې د ایران د ډیپلوماټانو په نوم د یوه واټ له نومولو خبر ورکړی او وایي، چې دغه موضوع یې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته وړاندې کړې، خو د اطلاعاتو او کلتور وزیر وایي، هیڅ پرې خبر نه دی.
سید مخدوم رهین چې د سې شنبې په ورځ د ولسي جرګې دیني او کلتوري کمېسیون په دې اړه ورغوښتی وو، وویل، چې د بلخ چارواکو په دېٔ اړه خبر نه دی ورکړی:
"په تولیزه توګه په ولایتونو کې چې نوموونه اېښول کېږي، باید د ولایتي شورا او والي نظر واخلي او وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته وړاندیز کېږي، یعني د اطلاعاتو او

پاتې ۴ مخ

ولې د سولې عالي شورا پلاوي پاکستان ته خپل سفر وځنډاوه؟

کابل، رسنی:
یو شمېر افغان کارپوهان وایي، د پاکستان له خاورې پر کونړ د راکټي حملو دوام او ځیني نور عوامل د دې سبب شوی، چې د سولې عالي شورا پلاوی پاکستان ته خپل سفر وځنډاوه.
دغه کارپوهان د پاکستان د افغانستان د سولې له پروسې سره د پاکستان د استخباراتي اداري نه همکاري او د دې هیواد کورنی جنجالونه هم اسلام اباد ته د دې پلاوي د سفر په مخ کې خنډونه بولي.
د افغانستان د سولې عالي شورا د پلاوي سفر پاکستان ته له هغو پرېکړو څخه یوه وه، چې دوې میاشتې پخوا کابل ته د پاکستان د صدراعظم په سفر کې له افغان چارواکو سره وشوه؛ خو د بیلا بیلو دلایلو له امله دغه سفر تر اوسه نه دی شوی.
یو شمېر افغان کارپوهان په دې باور دي، چې

پاتې ۴ مخ

د جمهوریت د نوي روغتون د نه فعالیدو علت څه دی؟

کابل، رسنی:
که څه هم کابل ښاریان د جمهوریت د نوي روغتون د نه فعالېدو له امله شکایت کوي، خو د عامې روغتیا وزارت وایي، د یاد روغتون فعالول د یوې معتبرې موسسې مالي مرستو ته ضرورت لري.
د دې وزارت ویاند حفیظ اله فیاض د سې شنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل؛ د پیسو، تکړه کادرونو او کاري ظرفیتونو نشتوالی، هغه لاملونه دي چې د دې روغتون فعالول یې ځنډولي دي.
ښاغلي فیاض داهم وویل، هڅې رواني دي، چې د دې روغتون فعالولو ته د اغاخان د شبکې مالي مرستې جلبې شي:
"د وزیرانو شورا یوه کمیټه ټاکلې، چې په دې سند کار وکړي، هیله ده دا کار ژر تر ژره ترسره او بیا یې کار پیل شي.
دا روغتون به یو پرمختللی، خدمات به یې په نړیوالو معیارونو برابر وي او د سیمې د هېوادونو له روغتونونوسره به سیالي وکړي."
په کابل ښار کې د جمهوریت روغتون نوې ودانۍ چې د ۳۰۰ بسترو لرونکې ده، د چین هیواد په مالي مرسته جوړه او په پرمختللو

پاتې ۴ مخ

ګلوبلایزیشن (Globalization) یا نړیوالتوب وپیژنئ

(دویمه برخه) ژباړه: عبدالله کامه وال

د سیاست نړیوالتوب

د سیاست د نړیوالتوب پیل له نړیوالو کانفرانسونو شوی دی. د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې څو اړخیز نړیوال کانفرانسونه په ویانا کې ترسره شول. د لومړۍ نړیوالې جګړې (۱۹۱۸-۱۹۱۴م) وروسته چې کله نړۍ سولې ته تر هر بل وخت ډېره اړتیا لرله، نړیوالو د نړۍ د سولې او امنیت د ساتلو په موخه د ملتونو ټولنه تاسیس کړه. د دې ټولنې هدف د جګړې مخنیوی و، د سولې ټینګښت او د جګړې مخنیوی د نړۍ د هر هېواد هیله وه. د ټول بشریت د ژغورنې لپاره د دې ټولنې جوړښت د سیاست دنړیوالتوب پیلامه بلل کېدای شي.
د ملتونو ټولنه د سولې په ټینګښت کې پاتې راغله، ځکه دویمه نړیواله جګړه ونښته. له دویمې نړیوالې جګړې (۱۹۳۹-۱۹۴۵م) وروسته د نړۍ ځواکمن هېوادونه یا د جګړې ګټونکي را ټول شول او د (۱۹۴۵م) کال په اکتوبر کې یې د ملګرو ملتونو د موسسې بنسټ کېښود.
د ملګرو ملتونو پر عمومي اسمبلۍ سربېره، د عدالت نړیواله محکمه، د امنیت شورا، دارالانشا او ګڼ شمېر نور بنسټونه لري. د امنیت شورا له پینځلس غړو جوړه ده، چې پینځه یې)امریکا، روسیه، چین، فرانسه او بریتانیه(دایمي غړي او پاتې لس یې د دوه کالو لپاره ټاکل کېږي. که د امنیت شورا هره پرېکړه وکړه، هغه پر نړۍ عملي کېږي. حتی که کوم هېواد چې د ملي حاکمیت لرونکی دی، مخالفت هم وکړي، ...

پاتې دویم مخ

په کجکي کې د ۱۷ ملکیانو د وژل کېدو د څرنګوالي تازه جزییات

کابل، رسنی:
په هلمند کې د اوولس تنو ملکیانو د وژل کېدو د څرنګوالي په اړه دوه روایتونه کېږي.
د هلمند ولایت د والي ویاند وایي چې تېره شپه د کجکي ولسوالۍ د شاکاریز د روشن اباد په سیمه کې د دوو طالب قومندانانو (ملا سید ګل او ګل ولي محمد) ترمنځ د دوو ښځو پرسر پنځلس تنه له دوو ښځو سره وژل شوي دي.
د هلمند ولایت د مطبوعاتي دفتر په خبرپاڼه کې ویل شوي چې د دې پېښې دقیق جزییات

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د سعودي له خوا د سولې هڅې دې تر بري ورسول شي

دا زموږ د جنګ ځپلي ولس لپاره یو ښه زیرې دی چې سعودي عربستان د افغان دولت او وسله والو ډلو ترمنځ د سولې د خبرو لپاره هڅې پیل کړي دي.

د افغان او عرب دیپلوماتانو په تائید سعودي عربستان د وسله والو یو شمېر مشران خپل هېواد ته رابللي، راپور وايي چې په دغو خبرو کې د طالبانو مشري، نجیب الله او د حزب اسلامي مشري غیرت بهیر کوي، همدا ډول له خالد حقاني او منصور حقاني سره هم خبرې اترې شوي دي.

راپور زیاتوي چې د خبرو د راتلونکي پړاو لپاره له ملا طیب آغا، سراج الدین حقاني، نصرالدین حقاني او له یو شمېر نورو مشرانو سره هم خبرې اترې شوي دي، د افغانستان مسلمان ولس چې څه باندې درې لسیزې یې د جنګ جګړې په لمبو کې تېرې کړي او د سولې په ارمان شپې سبا کوي چې کله هم د سولې او تفاهم خبره واوري نو من من غوښه اخلي او خوښي یې انتها ته رسېږي، ځکه چې د اوبو قدر تږي ته او د سولې قدر د جنګ په اور کې ولاړو خلکو ته معلومېږي په فعلي شرائطو کې د افغانستان د جنګ ځپلي ولس تر ټولو ستر ارمان دا دی چې پخپل هېواد کې د سولې او ورورۍ خوږه فضأ وګوري، د جنګ له لمبو نه خلاصون ومومي او د نورې نړۍ د اوسېدونکو په څېر د پرمختګ، خوشالي او امن په فضا کې ژوند وکړي.

ورور هېواد سعودي عربستان چې په افغانستان د سولې او تفاهم د قیام لپاره کومې هلې ځلې پیل کړي دي افغانان دهغه قدرداني او شکریه یې ادا کوي.

د هر مسلمان وجیبه ده چې د سولې او نیکۍ په کارونو کې ګړندي او مسؤولانه ګامونه واخلي او د مسلمانی نړۍ په هر ګوټ کې چې د جنګ جګړې اور بل وي د تماشې پرځای د مړ کولو هڅې وکړي او خپل ایماني او اسلامي مسؤولیت ترسره کړي. تر دې دمه چې په افغانستان کې د لکونو افغانانو وینې توی شوي او د ژوند په هر ډګر کې له ډول ډول کړاوونو سره لاس او ګریوان دی پدې کې د اسلامي هېوادو بې تفاوتي ستر رول لري ځکه چې د اسلام په سپېڅلي دین کې ددې خبرې حکم شوی چې کله د مؤمنانو دوه ډلې پخپلو کې په جګړه لاس پورې کړي نو نور مسلمانان دې دهغوی ترمنځ د سولې د راوستو لپاره فوري او جدي ګامونه واخلي او د ورورۍ په ټغر دې کېنوي، خو له بده مرغه د اسلام د دښمنانو ترڅنګ ځینې اسلامي هېوادونه هم له پیله په افغانستان کې د جنګ جګړې د اور د بل ساتلو لپاره فعالیت کوي، پوځي ټرېنینګ ورته ور کوي او د وسلو په لاس بې افغانستان ته لېږي چې په داسې کولو سره د الله او دهغه د رسول له ارشاداتو څخه هم سرغړونه کوي او په مجموعي ډول د مسلمان امت یووالي او قوت ته هم نقصان رسوي.

په افغانستان کې د رواني جګړې مخنیوې یواځې د افغانستان ولس په ګټه نه بلکې د سیمې اسلامي هېوادو او د نړۍ ټولو مسلمانو هېوادو په ګټه هم ده، زمکنیو حقایقو دا ثابته کړه چې په افغانستان کې د جګړې لګیدلې اور یواځې په افغانستان کې محدود نه دی پاتې بلکې تېونه او شعلې یې تر لیرې لیرې رسیدلي دي او د نړۍ ګڼ اسلامي هېوادونه یې له ګواښ سره مخامخ کړي دي، که چېرته ددغه اور د مړ کولو لپاره ګردې نړۍ په ځانګړي ډول اسلامي هېوادونه خپل انساني او ایماني مسؤولیت ترسره نه کړي نو لیرې نه ده چې د نړۍ زیاتره هېوادونه د افغانستان په سرنوشت اخته شي. د یو مسلمان ورور په توګه له سعودي چارواکو څخه د افغانانو له درد نه ډکه غوښتنه داده چې هغوی ددغې جګړې د هر اړخیز هوارۍ لپاره خپل هغه اثر او رسوخ او دوستانه اړیکې په کار واچوي چې له پاکستان، غربي نړۍ او طالبانو سره یې لري.

د افغانستان مسلمان ولس له خپل دولت او وسله والو مخالفینو څخه هم په کلکه غواړي چې په هېواد کې د سولې د راوستو لپاره له اخلاص، صداقت او زغم څخه کار واخلي، خپل ټول شخصي او ذاتي ګټې شاته او د خپلې خاورې او ولس ګټې مقدم کړي.

دا جګړه چې څومره اوږدېږي له همغومره زیاتو بدبختیو، ناخوالو او ذلت سره لاس او ګریوان کېږو، دښمن مو غښتلی کېږي او خپل ټول مادي او معنوي ارزښت مو له لاسه ورځي، دې لپاره چې د خپل دین او خاورې دښمنانو عزائم له خاورې سره خاورې او د خپل هېواد، ولس، دین او استقلال ساتنه وکړو نو ددې خبرې کلکه اړتیا ده چې پخپلو کې د یو بل د نابودولو او د حذفولو هڅو ته د پای ټکی کېږدو ټول په ګډه د خپل ولس د خیر ښېګڼې او د ځمکنۍ بشپړتیا د تأمین لپاره له یو بل سره په جرګه شوو، خپل نظریات، افکار او قابلیتونه شریک کړو، د هېواد او د اسلام د دښمنانو په خلاف اوسپنیز او نه ماتېدونکې مضبوط صف جوړ کړو، او دا اصل ومنو چې زموږ د بري راز په اتفاق، یووالي، سوله او ورورولی په ژوند کې نغښتل شوې، موږ چې څومره پخپلو کې سره رانږدې کېږو او قومي جوړښت مو څومره پیاوړې کېږي دښمنان مو همغومره کمزورې او خوارېږي.

د افغانانو لومړی او وروستي ضرورت سوله او اتفاق دی، همدا سوله او یووالې زموږ د ټولو ارمانونو ضامن او آخرنی چاره ده. نه ښایي د سولې چانسونه له لاسه ورکړو او خپل ځانونه پخپله د هلاکت کندې ته وغورځوو، د سولې او یووالي په فضأ کې به د هر افغان غوښتنې او ارمانونه ترسره کېږي او هر چاته به خپل خپل حقوق رسېږي، خو د جګړې او د پردیو په لمسه او مرسته د خپلمنځیو جګړو په نتیجه کې به ټول بایلونکي او نامراده یو، ملي یووالې به مو ټوټې ټوټې کېږي او خپلواکي به مو په غلامي بدلېږي.

راځئ لدېنه مخکې چې د دښمنانو د غلامی په لومو کې ونښلو او د مرغیو په څېر د قفس په زندانونو کې تړېکې ووهو حقیقت ته تسلیم شو او پخپلو کې د سولې او ورورۍ لاسونو په ورکولو له راتلونکی تیاره حالت نه خپل ځانونه په بشپړ مهارت خلاص کړو. په آزاده فضأ کې د عزت او وقار ژوند وکړو او د نړۍ په سر هسکه غاړه وګرځو.

(د لومړی مخ پاتې برخه)
(دویمه برخه)

... کوم ځای نه نیسي. افغانستان ته د ناټو ځواکونو راتګ چې اصلاً د امریکا د ګټو غوښتنه وه، د امنیت شورا د پرېکړې په نتیجه کې تر سره شو. دا چې د امنیت شورا د پرېکړې پر وړاندې د دولتونو ملي حاکمیت کوم ارزښت نه لري؛ نړیوالتوب دی. یاده دې وي، چې د امنیت شورا په پرېکړو کې دایمي غړي د ویټو (ممانعت) حق لري؛ په دې معنا، چې که ځوارلس غړي یو خوا ته وي او یو دایمي غړی یې ممانعت وکړي، پرېکړه نه شي صادرېدای. د سوریې د رژیم له لورې د ولس پر ضد د پیل شوې غمیزې په هکله د امنیت شورا پرېکړه د چین او روسیې له خوا ویټو شوه.

د سیاست د نړیوالتوب په برخه کې، د اقلیم تودوخه، د اټومي وسلو نه خپراوی، ناروغی، د بشر حقوق او ... د پام وړ رول لوبوي. یا هغه مسایل چې بشریت د هغو پر وړاندې متحد دریځ خپلوي. د ناروغیو پر ضد مبارزه، د اقلیم تودوخه، ناروغی، د بشر حقوق او ... هغه ښکلي شعارونه دي، چې دنړۍ پرمختللي یا لوېدیز هېوادونه له دو په استفاده خپل ځانګړي اهداف پلي کوي. د اقلیم تودوخه کې تر ټولو ډېر رول، د همدغو پرمختللو هېوادونو دی، ولې دوی د دې ستونزې د لرې کولو لپاره هېڅ اقدام نه دی کړی، ځکه د دوی ګټې زیانمېږي. یا د بشر حقوق، لوېدیز رسنی ځینې هېوادونه، لکه ایران، چین، سوډان، شمالي کوریا او داسې نور... د بشري حقوقو پر سرغړونې تورنوي؛ ولې کله هم اسراییل د فلسطینیانو پر وژنو نه ګرموي، امریکا پر افغانستان او عراق کې د ملکي خلکو پر وژنو د بشري حقوقو د یو سرغړونکي په توګه نه ګڼي. یا د منځني ختیځ هغه شاهي دولتونه چې د دوی ګټې په پام کې نیسي، کله هم دې ته نه مجبوروي چې د ولس رایې ته درناوی ولري.

اوسنی نړیوال سیاست د سیکولریزم تر بشپړې اغېزې لاندې دی، ځکه په ټوله نړۍ کې د ادیانو اخلاقي لارښوونې د حکومتونو د ځانګړو اهدافو د لارې خنډ نه شي کېدای. د بشر حقوق، سوله، امنیت، د اټومي وسلو نه خپراوی او ...دا ټول تر هغې ښه وي، چې د زبرځواکو دولتونو ګټې خوندي وساتي. که د دوی ګټې په جګړه کې وي، باید جګړه وي او که سوله کې وي بیا سوله ښه ده!

دغه پرمختللي هېوادونه د ملګرو ملتونو د ادارو پرېکړو ته ځکه د درناوي تظاهر کوي، چې دا ټول د دوی تر اغېز لاندې دي. د دغو موسسو ټولې پرېکړې د دوی په واسطه عملي کېږي، بنا پر دې سیاسي نړیوالتوب په بشپړ ډول د پرمختللو هېوادونو په ګټه دی، نه د دریمې نړۍ بې وزلو ولسونو په ګټه!

د کلتور نړیوالتوب

د اسلامي نړۍ نامتو عالم او مفکر، علامه قرضاوي، نړیوالتوب له ټوپان سره ورته بولي، چې نه شو کولای د خپلو کورونو د ورونو په

ګلوبلایزیشن (Globalization) یا نړیوالتوب وپېژنئ

ژباړه : عبدالله کامه وال

پورې کولو سره ځانونه ترې خوندي وساتلای شو. دنړیوالتوب بهیر هر اړخیز دی. دومره هر اړخیز او پراخ چې د انسان ژوند پورې ټولې ترلې چارې یې په ځان کې رانغښتي دي.

نړیوالتوب، هم ګټې لري او هم زیانونه؛ مسلمان مفکرین په ټوله کې د نړیوالتوب له مسئلې سره مخالف دي. سیاسي او اقتصادي اړخونه یې مخکې تېر شول. په کلتوري لحاظ اسلامي نړۍ او مسلمانان تر ګواښ لاندې دي.

د نړیوالتوب له کبله نن په موږ کې لوېدیز رواجونه دود شوي دي، لکه، له خوړو سره د ګاز لرونکو مشروباتو څښل، د الکولي مشروباتو عامېدل، انګلیسي ژبې ته ارزښت ورکول، تر دې چې خپلې ژبې مو هېرې کړې، امریکایانو ته ورته د دوی جامې په شوق اغوستل، د دوی تولید شوي خواړه، برګر، مکډونالډ، پیزا او... خوړل چې زموږ په ټولنه کې پخوا دود نه وو. غربي رسنی تعقیبول، لکه سي.ان.ان تلویزیون کتل، واشنګټن پوسټ، نیویارک ټایمز، نیوزویک مجله، ټایم مجله، وال سټریټ ژورنال، اکانومیسټ.... لوستل؛ په هره برخه کې د لوېدیز لیکوال کتاب او مقالې ته ارزښت ورکول، د اکسفورډ او کامبرج پوهنتونونو له خوا چاپ شوي کتابونه په لوړه بیه پېرېدل، امریکایي فلمونه او سایټونه کتل او بې شمېره نورې بېلګې هم شته، چې د ټولو لیکل دلته شوني نه دي.

د نړۍ د ټکنالوژۍ (۹۰٪) پنځونې له (۱۸۰۰م) کال راهیسې تر سره شوي دي. دغې ټکنالوژیکې برلاسي د نړیوالتوب بهیر خورا ګړندی کړ. نن که یو ختیځوال یا د دریمې نړۍ د یو هېواد اړوند څوک امریکایي جامه خوښوي؛ دا د دې لپاره چې دغه وړ جامه یې د تلویزیون پر مخ په ځلونو لیدلې دي او یا یې د الوتکو پر مټ لوېدیز هېوادونو ته سفرونه کړي، چې په طبیعي ډول له هغو متاثر شوی دی. سره له دې چې الکولي څښناک د اسلام د مبارک دین له لوري منع شوي، خو وینو چې په اسلامي هېوادونو کې په پراخه پیمانه دود دي. دا هم د رسنیو او سفرونو له امله داسې شوي دي. مسلمان ځوان چې کله امریکایي فلمونه ګوري، چې په فلم کې د ده اتل سګرټ یا شراب څښي په بیا بیا کتو دی هم عادي کېږي. نن زموږ حتی په ډېرو وروسته پاتې کلو* او بانډو کې ګورو چې د هندي او امریکایي فلمونو د اتلانو انځورونه په ډېره مینه ځړول شوي دي.

زموږ په ټولنه کې داسې ډېر دود دی، چې زموږ روڼ اندي به ضرور د خبرو په جریان کې پر سي.ان.ان، واشنګټن پوسټ، نیویارک ټایمز او ... حواله ورکړي، څو یې خبره ځانګړی وزن پیدا کړي. که څوک کتاب لیکي هڅه به یې دا وي، چې په انګلیسي یې ولیکلای شي، څو په اکسفورډ پوهنتون یې خپور کړي، چې ارزښت یې لا زیات شي! زموږ په هېوادونو کې ادیب، لیکوال، مفکر او ... هغه ښه بریښي، چې کره وړه یې له لوېدیز دود او دستوره اغېزمن شوې وي. په دې باب افغان لیکوال او سیاستوال، ډاکټر فاروق اعظم د «زموږ روشنفکران» تر سرلیک لاندې یې په زړه پورې لیکنه کړې ده، چې د هغې لیکنې په ترڅ کې یې د روڼ اندو په واسطه په کورونو کې د سپي ساتنې دود په کې ښه شاربلی دی.

زموږ د ټولنې لوړه طبقه د مکډونالډ، برګر، پیزا او ... خوړو سره به اشنا وي او د دوی د ژوند عادي برخه به وي. د ژوند په ډېرو عادي او کوچنیو چارو کې که ورته ښه خیر شو، د نړیوالتوب د څپو اغېزې په کې له ورایه لیدلای شو. ژبه د کلتور یوه ډېره مهمه برخه ده. دا ژبه ده، چې د تاریخ په پانو کې د ملتونو د تېرو کړو وړو ټولګه خوندي ساتي. د نړیوالتوب بهیر په عمومي ډول د ختیځوالو او په ځانګړي ډول د دریمې نړۍ د ملتونو ژبو ته ګواښ ګڼل کېږي.

ژبه او نړیوالتوب

د نړیوالتوب د بهیر په پایله کې د پرمختللې نړۍ ژبې د وروسته پاتې یا مخ پر ودې هېوادونو کې خپرېږي، چې په نتیجه کې د دغو وروسته پاتې ملتونو ژبې د مړینې له ګواښ سره مخ کېږي. د لوېدیځ د ټکنالوژۍ، رسنیو او سوداګریزو فعالیتونو له امله نن انګلیسي ژبه د هر چا کور ته ننوتې ده. دا طبیعي عمل دی. کله چې یو هېواد د ټکنالوژۍ په برخه کې پرمختګ وکړي او خپله ټکنالوژي نورو ته واستوي، هغوی مجبوره دي، چې د تولید کوونکي هېواد ژبه زده کړي. یا یو پرمختللي هېواد ته د مزدورۍ لپاره څوک ځي، له هر څه مخکې بایدد هغوی ژبه زده کړي. سر بېره پر دې د لوېدیځ ډله ییزې رسنۍ په دومره لوړه کچه خپرېږي، چې زموږ په هېوادونو کې له انټرنېټ پرته په چاپي ډول موږ ته رسېږي.

نن ورځ انګلیسي نړیواله ژبه ده.
انګلیسي د نړۍ د نفوس د ۵٪ وګړو ژبه ده، چې په یو ډول یا بل ډول د ۹۶٪ په واسطه پرې خبرې کېږي.
•د نړۍ ۳۵٪ بریښنالیکونه او فکسونه په انګلیسي دي
•د نړۍ ۴۰٪ راډیویي پروګرامونه په انګلیسي ژبه دي؛
•د نړۍ ۵۰٪ د انټرنېټ چارې په انګلیسي ژبه دي.

زموږ په هېواد کې نن انګلیسي ژبې تقریباً د علم ځای نیولی دی. که چا په کومه بله ځانګه کې لوړې زده کړې کړې وي، خو چې په انګلیسي پوه نه شي، نه پر دندې په آسانه لګېدای شي او نه د لوستي انسان سلوک ورسره کېږي. هر څوک په دې هڅه کې دی، چې د خپلې مورنی ژبې پر ځای په انګلیسي لوړې څه چې لومړنی زده کړې هم وکړي. د انګلیسي ژبې زده کړه کې کومه ستونزه نه شته په دې شرط چې خپله ژبه پرې و نه بایلو. دلته ستونزه دا ده، چې که چا په بهرنیو هېوادونو کې پر انګلیسي زده کړه وکړه، بیا نو له خپلې ژبې سره مخه ښه کوي.

د نړیوالتوب ننګونې:

د کلتور یو کېدل یا له منځه تګ

نړیوالتوب په څرګند ډول د رسنیو له لارې د دریمې نړۍ د هېوادونو کلتورونه له منځه وړي. د امریکا د ټایم اوونیزه ۳.۲میلیونه ګڼې خپرېږي. نیوزویک ۴میلیونه ګڼې خپرېږي. سر بېره پر دې زموږ ولسونه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره تر ډېره بریده پر بي.بي.سي، امریکا غږ، جرمني غږ، فرانس پریس، رویټرز، ازادي راډیو او ... باندې متکي دي. دا رسنۍ دې چې ولسونو ته د پېښو په باب په خپله خوښه معلومات ورکوي او د وګړو افکارو ته لوری ورکوي.

سربېره پر دې، د غربي فلمونو د کتلو له امله نن ډېری برخه ځوانان په دې هڅه کې دي، چې د همغو فلمونو د اتلانو په څېر ځانونه جوړ کړي. زموږ په ښارونو کې پر دېوالونو د غربي او هندي فلمي ستورو انځورونه ځړېدلي وي. په اخلاقي لحاظ یې زموږ ټولنه له لوی کړکېچ سره مخ کړې ده. شراب څښل، نا محرمو نجنو سره نامشروع تیلیفوني اړیکې، غربي ډوله تظاهر، غربي کره وړه کول او پرې ویاړ او .. دا ټول هغه څه دي، چې د رسنیو په تېره د فلمونو له لارې زموږ په ټولنه کې خپاره شوي دي.

(نور بیا)

د کمکي اختر دویمه ورځ یو ډېر ښه پیل او ښه تأثر

سید فضل مولا "لېتون"

د تېر کمکي اختر په دویمه ورځ د حزب اسلامي افغانستان په مرکزي دفتر کې د ګډ اختر د نمانځنې ورځ وه. زه هم په دې ورځ مرکزي دفتر ته له دې امله ورغلم چې سږنی اختر مې په کابل کې و.

د اختر په لومړۍ ورځ د خپلو خپلوانو کلیوالو او د مېلمنو د تلو راتلو سره د عادت امله زیات خفه لا څه چې له ځینې دوستانو سره مې د تیلیفون له لارې وه هم ژړل. خو چې کله مې یوه ملګري ته چې هغه هم په کابل کې اوسېده تیلیفون وکړ، چې وروره زه خو ډېر خفه یم، هغه راته په ځواب کې وویل چې دا مرحله پر موږ باندې دمخه تېره شوې ده او په تا باندې اوس راغلې ده، خیر خفه کېږه مه سبا ورځ له زامنو سره د حزب اسلامي مرکزي دفتر ته راشه، ټول ورونه راځي، ساعت به دې تېر شي.

ما هم په دې فکر چې نن خو به د حزب له ورونو سره وګورم او د اختر مبارکۍ به سره وکړو، خپل مشر زوی له ځان سره کړ او د سهار اته نیمې بجې د کابل مرکزي سیلو ته مخامخ د حزب اسلامي افغانستان مرکز ته راغلم.

کله چې د حزب د دفتر مخې ته راورسېدم، د حزب اسلامي یو زیات شمېر ورونه مې له دفتر نه د راوتلو په حال کې ولیدل، له هغوی سره تر روغبړ وروسته له یوه زیات شمېر ورونو سره دفتر ته ننوتو.

یو عجیب منظر مې تر سترګو شو، په یوه لوی هال کې دسترخوانونه غوړېدلي، د حزب اسلامي له توان سره سم قابونو کې وچې مېوې او کولچې ایښي، د ولسي جرګې وکیلان، سناتوران، د وزارتونو معینان، رئیسان، پخواني جهادي قوماندانان د حزب د اجرائیه شورى پخواني او اوسني غړي مجاهدین، شتمن او مسکینان پر یوه دسترخوان ناست دي او د حزب رئیس او د اقتصاد وزیر مجاهد ورور ارغندیوال صاحب د راتلونکو ورونو د استقبال او ښه راغلاست لپاره د څو نورو سپین ږیریو سره ولاړ دی، هر چاته په پرانستي غېږ ښه راغلاست وایي، ځینې نور مشران ورونه لکه انجنیر صاحب محمد خان او مولوی عطا الله د ورونو د ښه راغلاست لپاره د مېلمنو په صفونو کې ګرځي او د بیا خلي ښه راغلاست ترڅنګ ترې د حال احوال پوښتنه کوي.

ماته دې منظر ډېر خوند راکاوه، چې هېڅوک د هېچا مېلمه نه و او یا ټول د یوه بل مېلمانه وو، هېچا پر بل لوړاوی نه لاره، لا چې ټول د یو بل د درناوی له امله لوړ او عزتمن ښکاربدل، هم پکې پخوانیو یارانو سره ولیدل او هم له نویو سره آشنا او یو بل له حاله خبر شول بله ډېره د هیله منتیا خبره دا وه، چې ځوانانو په ډېره خوښۍ او اخلاص سره د خپلو مشرانو خدمت ته ملې رابډه وهلې وې. او تقریباً د درې، درې نیم زره مېلمنو خدمت یې په ډېر اخلاص سره وکړ.

د ګډ اختر دغه مبارکۍ د ماسپښین تر یوې بجې پورې دوام وکړ او د غرمې تر ډوډۍ وروسته هر څوک خپلو کورونو ته ولاړل. د رارسېدلو خبرونو له مخې دا ډول ګډ اختر د حزب اسلامي په ولایتي دفترونو کې هم نمانځل شوی او د حزب اسلامي اړوند زیات شمېر ورونو پکې ګډون کړی و.

د مخالفینو پر خلاف د ولس دننه پاځون عوامل

محمد خلیل

پر افغانستان د امریکایي پوځونو له یرغل او د طالبانو د رژیم له پرځېدو وروسته چې په افغانستان کې د بې ګناه ولسي وګړو د وژلو کومه تونده لړۍ پیل شوې او تر اوسه زرګونو افغانانو خپل قیمتي ژوند له لاسه ورکړې ددې عاملین د لمر په څېر څرګند دي بهرني مداخله کوونکي او تمویلوونکي هم ښکاره دي او ددغو ناوړه عملونو مرتکبین هم، دا جلا خبره ده چې موږ وربانډې ځانونه غول اچولي او د شفتالو د ویلو پر ځای هسې شف شف کوو.

د افغانانو مشکل دا نه دی چې ددغو سترو جرمونو مرتکبین او دهغوی تر شا ولاړ هېوادونه، نه پېژني بلکې ډېر ښه یې پېژني او ان چې د ډېرو نومونه او هویت هم پېژني، وسله وال مخالفین او دهغوی ملګري د افغانستان د ولایتونو له مرکزي ساحو نه څو کیلومتره لیرې په اطرافونو کې وسله او راکټ په لاس ښه آزاد ګرځي له کلیوالو نه ډوډۍ خوري، چای څکي او د جهاد په نوم چنده ترینه اخلي، له پاکستان، ایران، ازبکستان او نورو هېوادو څخه راغلي طالبان هم له خلکو خپل هویت نه پټوي او په جرئت سره وایي چې زه د فلان هېواد، د فلانکي سیمې اوسېدونکی او دلته د جهاد لپاره راغلی یم. خو پوښتنه داده چې دا هر څه په دومره بربنډ ډول ولې کېږي؟ افغان پوځیان او بهرني ځواکونه چې د افغانستان د ساتلو پر بهانه مېشته دي دهغوی د راداخلېدو لارې ګودرې ولې نه شي بندولې؟ د ولایتونو او ولسوالیو په څو کیلومترې کې دهغوی فعالیتونه ولې نه شي بندولې؟ ایا له هغوی سره د جنګ کولو استعداد او قابلیت نه لري او که څه بله وجه ده؟ همداراز ځایي اوسېدونکي ولې په یو غږ دهغوی په خلاف پاڅون کولو ته زړه نه ښه کوي؟ !

دا هغه پوښتنې دي چې د ښاغلي کرزي په شمول د دولت ټولو لوړ پوړو چارواکو ته راجع کېږي، په دې اړه باید ژور غور او فکر وکړي چې آخر د افغانستان غیرتي او مجاهد ولس ولې دهغوی په خلاف چوپه خوله دی او هره ورځ د قهر او غوسې تریخ غړپ ولې تېروي؟ هغه کوم لاملونه دي چې ولس یې دومره بې زړه او ناهیلې کړی دی چې دهغوی په خلاف د وسلې د اوچتولو څخه منع کړي دي؟ ! ولس ددغې پوښتنې ځواب پخپله خوله داسې ورکوي اصلاً د ولس اعتماد له حکومت نه پاڅېدلی، د حکومتي چارواکو بې عدالتي او ظلم دهغوی زړونه دومره خفه کړي چې له دولت سره هېڅ مینه یې نه ده پاتې.

وزیران، والیان، ولسوالان، قاضیان او نورو واک خاوندان ایله د ولس د څرمن په ویستلو کې مشغول دي او خیانت تر آخري کچه رسېدلې.

د رشوت، فساد، درغلی، بې عدالتي او اقربا پروري کومه وبا چې په دې هېواد کې خپره شوې ساری یې په تاریخ کې نه لیدل کېږي، د افغانستان هر څه د ګوتو په شمار د څو اشخاصو په لاسونو کې دي، یواځې خپلې ځولی ډکوي او وربانډې ښکلي او بلند منزلونه جوړوي، د ډالرو د راټولو په مسابقه کې اخته دي. له عام ولسي وګړو سره یې چال او چلند دومره ظالمانه دی لکه چې له باندې نه ډاکوان راغلي وي او د ښارونو او کلیو په تالانولو یې لاس پورې کړې وي.

زما ددغې خبرې ثبوت په نیمروز ولایت کې دهغه ځوان په جهر سره دا اعلان هم دی چې مخامخ ښاغلي کرزي ته وویل: ولسمشره له قاضیانو او څارنوالانو مو خلاصه کړه، تر پوزه بې راوستي یو، ژوند یې راته په اور بدل کړی دی. څرګنده خبره ده چې کله د دولت او رعیت ترمنځ د بې اعتمادۍ فضا رامنځته شي، چارواکي خپل ځانونه باداران او رعیت خپل غلامان وګڼي نو ولس د داسې حکومت د بقا او تداوم لپاره کله هم قرباني ته نه چمتو کېږي. ولسي وګړي دا خبره کوي چې که چېرته موږ خپلې سیمې له طالبانو څخه پاکې هم کړو نو دولت به زموږ د کوم غم دوا شي؟ آیا د ظلم او ناانصافۍ څخه به مو وژغوري، زموږ روا حقوق به تأمین شي، د والیانو، ولسوالانو، وزیرانو، رئیسانو، قاضیانو، ښاروالانو او نورو بډو اخستونکو څخه به نجات ترلاسه کړو؟ که چېرته د ولایاتو د مرکزونو او د کابل د پلازمینې اوسېدونکي له خپل دولت څخه سرونه ټکوي، د بې عدالتۍ او ناانصافۍ څخه کړېږي نو د اطراف اوسېدونکو وګړو کوم مشکل به حل کړی شي؟ !

ښاغلی کرزی او نور لوړ پوړي چارواکي دې دا واقعیت په سر سترګو ومني چې تر څو پورې دولت د خپل ولس بشپړ باور ترلاسه نه کړي او په دې قانع نه کړي چې چارواکي دهغوی خدمتګار دي نو کله هم ولس د داسې حکومت د ملاتړ لپاره زړه نه ښه کوي او کوم دولت چې د ولس له ملاتړ نه عاري وي هغه په هېڅصورت د یو پیاوړی او مستحکم حکومت په جوړولو نشي بریالی کېدلی او نه هم ددې جوګه کېدلی شي چې د هېواد د پولو او حریمونو مؤثره دفاع وکړي.

ولس د حکومت د روح او د ملا تیر حیثیت لري، هر هغه حکومت چې د ولس بشپړ باور او ملاتړ له خانه سره ونه لري هغه اصلاً یوه کاواکه او بې روحه حکومت دی چې د یو معمولي توپان په وړاندې هم مقاومت نشي کولی. که چېرته ښاغلی کرزی او دهغه کاري ټیم واقعاً د بهرنیو او داخلي ورانکارو مخه نیول غواړي او په صحیح معنی د مستحکم او غښتلي افغانستان هیله من وي نو ددې یواځینۍ لاره داده چې د هر څه دمخه په خپل حکومت او ادارو کې اصلاحات راولي د بیت المال د بې دریغه لوټلو او پر خلکو د باداري د سلوک پر ځای د دیانتداري او خدمتګاري سلوک پر ځان فرض وګرځوي د بیت المال بې ځای مصرف او عیاشي پر ځای د اعتدال لاره ونیسي. د افغانستان هر وګړي ته خپل شرعي او روا حقوق یقیني کړي، دهغوی د محرومیت او مظلومیت احساس لرې او پر ځای د هر وګړی د عزت او احترام خیال وساتي، په دې خبره دې بشپړ ډاډمن کړي چې د افغانستان اصلي مالکان او وارثان همدوی دي. ځکه چې چارواکي په دې هېواد کې په عزت سره د اوسېدو حق لري همداسې ولس هم په عزت او احترام سره د اوسېدو حق لري، دهغوی مال، دولت، عزت او ابرو محفوظ دي هېڅ ظالم، زورواک او بدمعاش دهغوی ژوند او حقوق نشي ګواښلې، قانون د ټولو لپاره دی او هر سرغړوونکی به خپله سزا ویني، که الله مکړه په هېواد کې د ځنګل قانون روان وي هر واکدار او بدمعاش د مظلوم ولس په سرنوشت لوبې کوي او له ځناورو څخه بدتر سلوک ورسره کوي نو ولس کله هم دداسې حکومت ددفاع لپاره پاځون نه کوي ځکه چې پر نتیجې یې مطمئن نه دي او همدا فکر کوي چې که چېرته د مخالفینو له ګواښونو څخه خلاصون هم ترلاسه کړي نو بیا به د حکومت د بې عدالتۍ په ژرنده کې دل کېږي.

ددغه تریخ حقیقت په نظر کې نیولو سره باید حکومتي چارواکي پخپل سلوک کې د بدلون راوستو ژمنه وکړي او د حکومتدارۍ هغه سلوک په ځانو کې پیدا کړي چې د اسلام سپېڅلي دین ورته ښودلی دی. د حکومت اصلاح د ولس اصلاح دی کله چې حکومت اصلاح، او له ولس سره شیر او شکر شي نو افغانستان به د هر ډول خارجي مداخلو او لاسوهنو څخه په ډېره آسانه نجات ترلاسه کړي، که نه نو په افغانستان کې چې د بهرنیو مداخلو، وژنو، غمونو، ویرونو او نورو ناخوالو کوم خړ سیلاب راغلی دی دا به نور هم توپاني کېږي او هر څه به د خس او خاشاک په څېر له ځان سره وړي ځکه چې د ظلم نظام پایخت نه لري او ډېر ژر له منځه ځي.

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

څلورمه برخه
(تېر پسې)

یولسمه تجربه: په یو ورکشاپ کې له چا نه سوال و شو، چې اولاد ولې پلار وړي؟ دې ورته هاغه او دغه و ویل: میراث یې منځ ته را واچولو د ویني معاینې ته یې هم ربط ور کړو، بیا د ورکشاپ مسئول ماته مخ واړاو او راته یې وویل؛ د ورکشاپ ګډونکونکي وایې چې دې خپل نظر و وایې، زه جګ شوم او خپل نظر مې داسې وړاندې کړ: آیا فصل د دهقان حق دی که د ځمکې؟ دوي و ویل چې د ځمکې نو ما ورته و ویل نو دهقان یې ولې کور ته وړي هغوی و ویل: ځکه چې هغې کر کړی خواري یې کړی، نو ما ورته و ویل: پلار هم ځکه اولاد وړي چې کر او خواري هغه کړی، بیا مې ورته د ابو حمزه د ښځې قصه و کړه، قصه داسې وه چې د ابو حمزه شېږ یا اوه لورګانې وې، او ښځه یې بیا هم حامله وه، کله یې چې ماشوم یې وزېږاوه نو دا هم لور و ختله، نو ابو حمزه مرور شو او همسایه کره ولاړ، تر ډېر وخت پورې کورته رانغې. ښځې یې دهغه په دې خپګان یو شعر وویل چې معنا یې داسې ده: په ابو حمزه څه شوي ولې کور ته نه راځي؟ په داسې حال کې چې هغه زمونږ په خوا کې د همسایه په کور کې دی، ایا په دې په غوصه دی چې ما ځوی نه دی راوړی، قسم دی چې دا زما په وس کې نه وه، مونږ ښځې د کر کوونکو لپاره ځمکې یو او هغه څه را زرغونه وو چې دوی یې په مونږ کې کري.

دولسمه تجربه: دین د انساني ژوند د ارامتیا او سوکالۍ لپاره ډېر ارزښتناک اصول او آداب وضعه کړي، د الله پاک اوامر او نواهي بې حکمته نه دي، که هغه اصول او آداب چې دین د هر اړخیز ژوند د ښه تیریدو په موخه وضعه کړي د ژوند په هره ساحه کې تطبیق شي نو د انسانانو تر منځ به هیڅ ستونزي نه وي، د بیلګې په توګه په دین کې په خپلو منځونو کې یو بل ته د بدو القابو د استعمالولو نه منعه شوي ده، دا ځکه چې د القابوّ استعمالول اجتماعي مشکلات را منځ ته کوي د خلکو تر منځ یو بل نه د نفرت کولو کرۍ پراخوي، د ورور ګلوۍ رسۍ شکوي او دښمني را منځ ته کوي، مګر متاسفانه چې مونږ د دې اصولو پر خلاف عمل کوو. یوه ورځ زما یو دوست را ته زما د ماشوم زوی په مخ کې و ویل: چې سپین ږیریه ځنګه یې، ماشوم چې دهغه دا خبره واورېدله نو ماته به یې وخت نا وخت ځانله او د خلکو په مخ کې د سپین ږیری غږ کاو زما دا زوی پر ما ډېر ګران هم دی، ډېر خله ورته بر ګک او غوسه شوم، خو فایده یې و نه کړه، بیا مې له ځانه سره کښینولو او ورته مې و ویل: ګوره که ته ما ته سپین ږیرې و وایې نو یو خو دا چې زه خپه کیږم، او بله دا چې نور خلک داسې فکر کوي چې دا ماشوم ډېر بې ادبه دی چې پلار ته د سپین ږیری غږ کوي، نو دا به ځنګه شي؟ هغه راته و ویل: بیا به یې نه وایم، او چې ځنګه یې وعده و کړه تر نن ورځې پورې په رښتیا هم بیا ماته سپین ږیری نه دی ویلی.

دیارلسمه تجربه: د پښتو په ساده اصطلاح کې وایي: ګومان د ایمان زیان دی. او په قرآن کې د ګومان کولو نه د ځان ژغورنې امر شوی، مګر مونږ همیشه د شرعي اصولو خلاف کار ته ملاتړلي وي. د هجرت په ټاټوبي کې د یو دوست ځای ته ورغلم، په حجره کې ډېر خلک ناست و، د دوی تر منځ د جهاد او جبهې ته د تګ او نه تګ د مجاهد او نه مجاهد بحثونه شوي وو او یو کلیوال ملک سړی یې چې زمونږ د ټولو دوست و ځورولی و، کله چې زه ورغلم نا خبره وم یو څو دقیقې کښیناستم زمونږ هم نور کار نه و، چې کله به سره یو ځای شوو نو د جبهې خبرې به وې، ما و ویل: راځئ چې جبهې ته ولاړ شو، په ناستو خلکو کې ځینو و خندل زه هم پوه نه شوم، حیران شوم، چې دوی ولې و خندل، خلاصه دا چې هغه ملک سړی خوله را خلاصه کړه او ما ته یې ټول هغه څه چې د ده په توان کې وو او په خوله یې راتلل وویل، مګر زه په دې خاطر چې یو خو رانه سړی مشر و او بل ملک هم و او د بلې خوانه زما په کنځلو کولو کې مهارت هم نه درلود چپ پاتې شوم او یوه خبره مې هم و نه کړه وروسته د حجرې خاوند راته و ویل: له تا نه مخکې دلته بحث شوی و او دا ورور په کې جبهې ته په نه تګ ملامت شوی و نو دې فکر و کړ چې ته بیا دا موضوع د ده په خلاف را تازه کوی، ما و ویل: زه خو خبر نه وم خو بیا هم دا زما هدف نه و، خبره خلاصه شوه او هېره مې کړه. بله ورځ راته پلار الله پاک دې و ښښي و ویل: تا جنګ کړی، ما ورته و ویل خدای نه خواسته، ده راته و ویل: فلانکی راغلی و او ما ته یې عذر و کړ، را ته یې وویل: ستا له زوی سره مې ظلم کړی، بدې ردې مې ورته ویلي او ده راته غږ هم و نه کړ، نو چون ستا زوی له ما نه کشر دی او هغه ته عذر نه شم کولای نو ځکه تا ته راغلم چې عذر درته و کړم.

(نور بیا)

مرور بر مطبوعات جهان

امریکا: موږ په افغانستان کې خپل هدف ته رسېدلای شو

موږ په افغانستان کې خپل هدف ته چې د القاعده شکست او د دې شبکې لپاره په د خوندي کیدلو د امکان د منځه وړل دي؛ رسیدلای شو، خو دا کار د داسې افغانستان په رامنځ ته کیدو پورې تړلی، چې په خپلو پښو د دریدلو توان ولري.

دا خبره د افغانستان پر حالاتو د واشنګټن ټایمز په یوه تحلیلي مقاله کې شوې.

د مقالې لیکوال وایي: ما څو ورځې مخکې د افغانستان د خپلواکۍ د درې نویمې کلیزې د لمانځلو په مراسمو کې برخه درلوده. زه د دې په لیدو چې افغانان څومره د خپل هیواد راتلونکي او د خپل ملي هویت پیاوړي کیدو ته هیله مند دي، متعجب شوم.

د واشنګټن ټایمز د دې مقالې لیکوال زیاتوي، ډیر شمېر امریکاییان د افغانستان لپاره د دې هیواد د خلکو تعهد او یا هغه امنیتي پرمختګونه نه شي لیدلای؛ چې زموږ د ګډې مبارزې په پایله کې رامنځ ته شوی.

د ورځپاڼې په لیکنه، د افغانستان دا تاریخي ورځ د تصادف له مخې نه بلکې په داسې حالکې لمانځل کیږي؛ چې امنیتي ځواکونه یې ورځ په ورځ پیاوړي کیږي.

افغانستان د نړیوالو سره د اوږدې مودې ستراتیژیکو اړیکو تړونونه لاسلیکوي او نړیوالې ټولنې ژمنه کړې؛ چې تر یوې بلې لسیزې به د دې هیواد څخه ملاتړ کوي.

وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې د افغانستان او پاکستان په اړه یو مطلب خپور کړی.

ورځپاڼه لیکي، سره له دې چې طالبان وایي، چې د حقاني د شبکې د مشر جلال الدین حقاني زوی ژوندی او روغ رمټ دی، د افغانستان د استخباراتو ادارې د خپلو مامورینو په حواله د هغه مرګ تایید کړ.

د افغانستان استخباراتو د یک شنبې په ورځ وویل؛ چې بدر الدین حقاني په پاکستان کې د بې پیلوټه الوتکو په حمله کې وژل شوی.

والسټریټ ژورنال وایي، د بدر الدین حقاني مرګ به هغې شبکې ته چې د ده پلار یې بنسټ ایښي وو، سخته ضربه وي.

د حقاني شبکې ته امریکا په افغانستان کې د پیاوړي دښمن په سترګه ګوري.

بدر الدین حقاني د دې شبکې د ورځنیو فعالیتونو قوماندان ګڼل کیږي.

دی د انتحاري حملو لپاره د بهرنیانو د ګومارلو، له نورو وسله والو ګروپونو سره د اړیکو ټینګولو، خپلې ډلې ته د پاکستاني طالبانو د جلب و جذب، په کابل او د افغانستان په جنوب کې د تخریبي فعالیتونو د څارلو مسوول وو.

افغان ځواکونو له لوري پر بهرنیو...

خلکو، له مذهب او فرهنګ سره یې کوي، راضي نه دي، د دوی اکثره یې نژاد پرسته، بې باکه او مغرور دي، لنډه خبره دا چې دوی زموږ احترام نه کوي.

نیوزویک مجله لیکي، دې ډول نارضایتیو له افغانستانه د امریکایي عسکرو د وتلو پروګرام ته یوجدي ګواښ متوجه کړی دی. دغه ستونزه، چې په ۲۰۰۵ کال کې د څو انفرادي پېښو وروسته راپورته شوه، اوس یې د افغان او نړیوالو ځواکونو ترمنځ بې باوري زیاته کړې.

افغان امنیتي ځواکونه چې ټاکل شوې د ۲۰۱۴ کال ترپایه چې له دې هېواده د ناټو ځواکونه وځي، د هېواد د چارو بشپړ امنیتي مسولیتونه په غاړه واخلي، په دې وروستیو کلونو کې د بل هر وخت په نسبت له خپلو نړیوالو متحدینو سره له نژدې همکاري کوي.

د ایتلافي ځواکونو یوشمېر قومندانان دغه نژدې والی د دغو حملو د زیاتوالی یو عامل بولي.

یوه بل افغان افسر راپور ته شویو ستونزو ته په اشاره دې مجلې ته ویلي؛ چې پخوا یې له امریکایي ملګرو سره اړیکې ډیرې ښې وې؛ له کارونو وروسته به یې خبرې اترې کولې او یوځای به یې چای څکه خو اوس له وظیفې پرته نور دا ډول بنډارونه نه کوي.

د نیوزویک په وینا دغه یوځایي ناسته اوس له هغو اندیښنو سره چې امریکایي او د ایتلاف نورغړي باید د خپل ځان ساتلو په فکر کې شي تړلې ده.

خو په کابل کې د ایساف ځواکونو ویاند جنرال "ګونټر کټز" دې ته په اشاره چې د ده وینا؛ دغه کورنۍ حملې به د دوی هڅې زیانمنې نه کړي ویل؛ دا ډول پېښې به د دوی پوځي هڅو ته زیان ونه رسوي، کارونه ښه پرمخ ځي او د مخالفانو پر وړاندې جګړه په اغیزمن ډول پرمخ ځي.

د هغه په وینا ترټولو مهمه دا ده، چې موږ اوس له خپلوافغان همکارانو سره چې ورځ تربلې امنیتي مسولیتونو ته اوږه ورکوي، په ګډه د دښمنانو په وړاندې جګړه پرمخ وړو.

د نیوزویک په وینا که څه هم د افغان امنیتي ځواکونو له منځه پرنړیوالو ځواکونو په حملو کې طالبان ډېرلاس نه لري؛ خو طالبان وایي، دا هغه څه وو، چې دوی یې هیله کوله.

په کندوز کې د طالبانو یوه قومندان نیوزویک مجلې ته ویلي؛ موږ پوهېږو، چې افغان امنیتي ځواکونه د پیاوړي کیدو په حال کې دي؛ د دې لپاره، چې له امریکایانو سره د هغوی اړیکې کمزورې شي، دغه حملې دې هدف ته د رسیدو لپاره ترټولو ښه وسیله ده.

نخستین فابریکه ذوب آهن...

متخصص خارجی در پیشبرد کارهای شان استفاده می کنند.

انورالحق احدی وزیر تجارت و صنایع افغانستان فعالیت این فابریکات را در افغانستان مهم خوانده ابراز امیدواری می کند تا در آینده کمپنی های دیگری نیز فعال گردد.

وزیر تجارت و صنایع افغانستان می گوید، افغانستان سالانه نیازمند بیش از ۵۰۰۰۰۰ تن آهن را دارد ولی تولیدات این فابریکه می تواند قسمتی از مشکلات مردم کشور را برطرف کند.

از سوی دیگر شماری از نماینده گان مردم هرات در ولسی جرگه مشکلات صنعت و تجارت در هرات به وزرای تجارت و اقتصاد یاد آوری کرده تاکید کرده اند تا برای رفع مشکلات شان از این ناحیه اقدامات لازم را روی دست گیرند.

منورشاه بهادری نماینده مردم هرات در ولسی جرگه گفت وزارت اقتصاد باید از تمام تجاران و صنعت گران در برابر اجناس مشابه کشورهای همسایه حمایت کنند.

وی گفت، اجناس بی کیفیت کشورهای همسایه در داخل مارکت هرات و عدم توجه مسوولان دولتی برای جلوگیری از این وضعیت سبب ورشکستگی شماری از فابریکات هرات شده است.

چندی قبل رییس اتحادیه صنعتگران هرات گفت، بیش از ۱۰۰ فابریکه به خاطر عدم حمایت دولت در برابر اجناس کشورهای همسایه مسدود شده اند.

ولې د سولې عالي شورا پلاوي...

د پاکستان له خاورظز د افغانستان پر ختیځو سیمو د راکټي حملو دوام د دې سبب سوی، چې د سولې د عالي شورا د پلاوي سفر وځنډیږي.

د سیاسي چارو یوه کتونکي وحید مژده ازادی راډیو ته وویل. "د پاکستان له خوا د افغانستان پر کونړ ولایت راکټي حملو د افغانستان په ولسي جرګه کې لویه نانذره راپورته سوه، یعنې د پاکستان او افغانستان د کړ کیچ په خاطر په افغانستان کې یو سیاسي بحران را پیدا شوو.

صلاح الدین رباني هم فکر وکړ، چې پاکستان ته زما سفر شاید ګټه ونه لري، ځکه چې پاکستان زموږ خاوره په راکټونو ولي، پاکستان ته زما سفر به زما پر سیاسي شخصیت بد اغیز ولري."

ټاکل شوې وه، د سولې عالي شورا یو پلاوی د دې شورا د رییس په مشر د روژې میاشتې په وروستیو کې پاکستان ته سفر وکړي، خو هغه وخت هم دا سفر ونه شو.

د چارو بل څېړونکی جاوید کوهستاني په دې باور دی چې د پاکستان له خوا د راکټي حملو تر څنګ د افغانستان د سولې پر خبرو د پاکستان د استخباراتي ادارې ناخوښي او د دې هیواد نور کورنی ستونزي د دې سبب سوي، چې دغه سفر وځنډیږي: "د پاکستان ملکي حکومت د نظامیانو تر سخت فشار لاندې دی، خپله په پاکستان کې هم حالت خراب دی، نو نه غواړي، چې د افغانستان د سولې عالي شورا پلاوی ورسي.

پاکستان غواړي افغانستان ته بیا طالبان راولي او په افغانستان کې واک تر لاسه کړي دا د دوی پروګرام دی."

له بلې خوا د سولې د عالی شورا غړي مني چې د پاکستان له خوا راکټي حملې، د دې هیواد کورنی ستونزې او نور عوامل هم اسلام اباد ته د دوی د پلاوي پر سفر بې اغیزې نه دي.

خو د دې شورا غړي او د نړیوال اړیکو سلاکار محمد اسعیمل قاسمیار ازادی راډیو ته وویل؛ چې د سولې د عالي شورا د رئیس صلاح الدین رباني سفر به ضرور په یو مناسب وخت کې وشي.

"د زمینې په برابرېدو سره او په دې باور چې پر ځینو مسایلو توافق وشي او یو میکانیزم جوړ شي، چې پرېکړې تعقیب کړي او دواړو خواوو ته وښوول شي.

همدا راز سفرونه یوازې ددې لپاره نه دي چې بس ودې شي، باید یو پرمختګ له ځان سره ولري، نو ځکه دا به یوه معقوله هڅه وي، چې دغه سفر باید یوه لاسته راونه ولري."

ښاغلي قاسمیار تمه وښودله چې اسلام اباد ته به د سولې د عالي شورا رییس سفر مثبت نتایج ولري.

له دې مخکې د دې شورا غړو ویلي وو، چې د طالبانو د یوه مهم مشر ملا عبدالغني برادر په ګډون د هغو طالب چاراوکو خوشې کیدل چې پاکستان بندیان کړي، یوه له هغو مسایلو څخه ده چې په دې سفر کې به له پاکستانیو چارواکو سره خبرې پر وشي.

یو شمیر کتوونکي له دې امله د دې سفر د بریالي کیدو په اړه شکمن دي؛ چې پخوا هم د سولې له بهیر سره د پاکستان د همکاریو د جلبولو لپاره د افغان دولت هڅو د پام وړ نتیجه نه ده ورکړې.

د ایران د ډیپلوماټانو په نوم...

کلتور وزارت تائیدي باید واخیستل شي، په دې اړه موږ ته هیڅ وړاندیز نه دی شوی او زه ان باور هم نه لرم چې ایا دغه کار شوی او که یا؟"

په بلخ ولایت کې پر یوه مهم واټ د ایران د وژل شوو ډیپلوماټانو د نوم ایښوولو موضوع د ولسي خلکو او د افغانستان د ملي شورا د یو شمېرغړو سخت غبرګونونه راپورته کړي.

د ابومسلم خراساني د واټ نوم د بلخ ولایت مقام له خوا د هغو څو تنو ایرانیو ډیپلوماتو په نوم شوی چې شاوخوا یوه نیمه لسیزه مخکې د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې په مزارشریف کې وژل شوي و. د اطلاعاتو او کلتور وزیر وویل، چې د دې موضوع د روښانه کولو لپاره به بلخ ولایت ته سفر وکړي.

د افغانستان د ولسي جرګې د دیني او کلتوري چارو کمېسیون دغه نومونه د قانون پر خلاف بولي او وایي، په واټونو باید د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا نومونه کېښودل شي.

د انتقاد کووونکو لوی اعتراض دا دی چې دغه واټ د داسې ایرانیو ډیپلوماتو په نوم شوی چې یو وخت یې په افغانستان کې جاسوسي کوله او د کورنۍ جګړې اور ته یې لمن وهله.

د ولسي جرګې د دیني او کلتوري کمېسیون رئیس کمال ناصر اصولي او یوې غړې هیلې ارشاد په دې اړه وویل:

"هیلې ــ وروسته تر هغه چې تاسو خبر شوي یاست، ایا د بلخ سیمه ایزو چارواکو ته مو رسمي مکتوب لیږلی، د بلخ له والي سره مو خبرې کړې، په دې خاطر چې هغوي د اطلاعاتو او کلتور وزارت له اصولو خلاف کار کړی.

اصولي ــ د بلخ والي چې د ایران د وژل شوو ډیپلوماټانو په نوم یې یو واټ نوملی او دغه واټ پخوا د ابو مسلم خراساني په نوم وو، ایا په دې اړه د بلخ چارواکو وزارت ته یو رسمي مکتوب لیږلی، ایا د بلخ سیمه ایز چارواکي د دې کار صلاحیت لري او که یا؟"

تر دې پخوا د بلخ سیمه ایزو چارواکو له خپل دې کار څخه دفاع کړې او ویلي یې وه، چې ایران د جهاد په وختونو کې له افغان مجاهدینو سره مرستې کړې وې او د بلخ چارواکو دغه کار د ایران او افغانستان د اړیکو د غښتلتیا په نیت کړی.

دوی ویلي وه، دغه واټ یې د وژل شویو ایرانیو ډیپلوماتو په نوم کړی خو د منظورۍ لپاره یې موضوع د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته سپارلې.

خو څرګنده نه ده، چې د بلخ د ولایتي چارواکو له دې څرګندونو سره د اطلاعاتو او کلتور وزیر ولې په دې اړه بې خبري ښيي.

د جمهوریت د نوي روغتون د نه...

روغتیایي وسایلو سمباله ده.

د عامې روغتیا وزارت وایي، د دې روغتون له فعالیدو سره به، ناروغانو ته د قناعت وړ روغتیایي خدمات ورسیږي.

کابل ښاریان وایي، که چیرې دا روغتون فعال وای، نه به مجبوریدلی، چې په ډیرو سختو حالاتو کې هم، خپل ناروغان ګاونډیو هیوادونو ته بوځي.

دوی له دولته هیله کوي چې ژر ترژره دې، یاد روغتون فعال کړي: "۱- زمانوم امین اله حبیب زی دی، دولت باید دې ته جدي پاملرنه وکړي، ودانۍ یې جوړه ده، لوازم لري، خو مسلکي پرسونل نه لري. په مرکز کې چې د یو روغتون داحال وي، په لیرې پرتو سیمو کې به څه حال وي.

۲- دولت باید ډیرژر دا روغتون فعال کړي، ځکه افغانان د ناروغې له امله ډیرې ستونزې لري او ناروغان په ډیرو سختو حالاتو کې ګاونډیو هیوادونو ته بیایي."

ځیني افغانان بیا په مجموع کې د هېواد د روغتونونو، کلینیکونو او روغتیایي مرکزونو پر ناکافي روغتیایي خدماتو انتقاد کوي او وایي؛ چې په تیرو شاوخوا لسو کلونو کې یې هېواد ته په میلیاردونو ډالرراغلل؛ خو روغتونونه یې، د دې وړ نه شول، چې خلکو ته دقناعت وړ روغتیایي خدمات ورسوي.

په کجکي کی د ۱۷ ملکیانو د وژل...

به د کشفي او استخباراتي اداري د نورو مالوماتو له بشپړېدو وروسته خپاره شي.

خو نور راپورونه وایي چې په یاده سیمه کې یوشمېر کسان د موسیقۍ د پروګرام لپاره راټول شوي وو چې وسله والو طالبانو پرې برید وکړ، ځیني یې په ډزو ووژل او له ځینو نورو یې د چاړې په وسیله سرونه پرې کړل.

د کجکي ولسوال نعمت الله خان وویل چې د موسیقۍ په پروګرام کې دوو ښځو نڅا کوله چې طالبان پرې راغلل او سرونه یې ورپرې کړل.

د ده په وینا طالبانو د دې لپاره چې خلک وېروي او خپل زور ورښکاره کړي د هغوی سرونه غوڅ کړل.

خو د هلمند ولایت د مطبوعاتي دفتر په خبرپاڼه کې طالبان د موسیقۍ په پروګرام کې شامل بلل شوي او ویل شوي چې د دوی د دوو قومندانانو ترمنځ د ښځو پر سر لانجه راغلې ده.

د هلمند د مطبوعاتي دفتر په خبرپاڼه کې دا ادعا هم شوې چې طالب مشران د بې ګناه افغانانو د وژلو پر سر له خپلو (بادارانو) څخه پیسې اخلي او دننه په افغانستان کې هم په مختلفو بلمو له خلکو پیسې شکوي او زیاتې پیسې سبب شوې چې دوی په عیاشیو بوخت شي.

په خبرپاڼه کې وړاندې ویل شوي چې تر دې څو ورځې مخکې هم له یوې ښځې سره د دوو طالب قومندانانو ناوړه جنسي اړیکې د هغې له وژلو وروسته افشا شوې.

نژدې دوې میاشتې پخوا د پروان ولایت په غوربند ولسوالۍ کې هم یوه مېروښه ښځه له یوه طالب قومندان سره د جنسي اړیکو په تور د خپل خاوند له لوري د ګڼو خلکو په وړاندې ووژل شوه.

وسله والو طالبانو د هلمند د کجکي ولسوالی د وژونکې پېښې په اړه تراوسه پورې څه نه دي ویلي.

کرزي د کجکي د ۱۷ ملکیانو وژنه وغندله

په همدې حال کې د افغانستان ولسمشر حامد کرزي په یوه اعلامیه کې د طالبانو له لوري د هلمند د اوسېدونکو وژنه بې رحمانه بللې او هغه یې غندلې ده.

له ارګ څخه په خپره شوې اعلامیه کې دغه راز ویل شوي:« حامد کرزی د طالبانو په لاس د خلکو ډله ییزه وژنه د شریعت د احکامو پرخلاف ستر جنایت او نه بخښونکی عمل ګڼي او د دا ډول عملونو ترسره کیدل د هغوی په لیکو کې د بې بند وباری څرګنده نخښه بولي او هغه په کلکه غندي.»

په خبرپاڼه کې دا هم ویل شوي چې د افغانستان ولسمشر د دې پېښې د څرنګوالي په باب اړوندو امنیتي ادارو ته د لازیاتو تحقیقاتو د ترسره کولو امر کړی دی.

له بلې خوا په هلمند ولایت کې د پولیسو پر یوې پوستې د وسله والو طالبانو په برید کې لس پولیس وژل شوي او پنځه نور یې درکه شوي دي.

د هلمند د والي ویندوی داوود احمدي وویل چې وسله والو طالبانو د دې ولایت په واشیر ولسوالۍ کې پرون ماښام د پولیسو پر پوستې برید وکړ چې په نتیجه کې یې ۱۰ پولیس وژل شوي، ۴ ژوبل شوي او پنځه یې درکه شوي دي.

دغه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"

مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:

دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱

مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
- رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین: خواجه وحیدالله

آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه. کابل - افغانستان

Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com